مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباري جهاني ۲۰۱۹/۰۳/۱۵

# غزل

خدای ته ده معلومه چي اسمان په زړه کي څه لري
تندر دی بربښنا ده چي باران په زړه کي څه لري

مور خو سمندره ستا څپو ته بېړۍ خوشي کړه
ګورو به نصيب ته چي توپان په زړه کي څه لري

زه او جانان دواړه په پوهېږو خو څه نه وايو
تيري کيسي وايي رقيبان په زړه کي څه لري

ماته د خوبونوتعبيرونه سرچپه ايسي
خپل يوسف پوښتمه چي زمان په زړه کي څه لري

ما يې تر جامو لاندي د وينو رنګ ليدلی دی
سپين يې دي اغوستي قصابان په زړه کي څه لري

سل ځله به واغوندي پوستونه له رمو سره
شپون زمان خبر دی چي لېوان په زړه کي څه لري

پلونه د غديو د کاروان په لار کي وينمه
اوري پر پېچومو چي ساروان په زړه کي څه لري

مور شهيدو وينو ته په ساندو ورځي ستړي کړي
شپې لرو په مخ کي چي خونيان په زړه کي څه لري

نن دي جهاني د غزل توري اړولي دي
ګوره چي په پای کي به داستان په زړه کي څه لري

د ۲۰۱۹ کال د مارچ څوارلسمه ويرجينيا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ